# مولوي عبدالواسع کندهاری

## ټبر او کورنۍ :

د کندهار ښار دبامیزو په کوڅه کي داحمد شاه بابا له وخته دملا بابړ مسه خیل کاکړ یوه کورنۍ اوسېده، چي پخپله ملا بابړ دلوړ ژوب د مسه خیلو څخه د ۱۱۵۰ ق ۱۷۳۷ م په شا وخوا کي زاړه کندهار ته راغلی ؤ.

دی د کندهار لوي مدرس او د اسلامي علومو لوي استاد ؤ، او دهغه وخت په اسنادو کي دیوه مشر او دښه علمي مقام او شهرت خاوند ګڼل کېدی. لکه په یوه زړه شرعي او رسمي قباله کي د مرتضي خان پوپلزي په نامه په رجب ۱۱۹۳ ق د کندهار په شرعي محکمه کي دتیمور شاه دقاضي عبدالرحیم په مهر ټاپه سوې او دښاغلي عزیزالدین تکړه خطاط او هنر مند په دره الزمان کتاب ( ص ۳۶۳ ) کي کټ مټ عکاسي سویده. دده دنامه سره دغه القاب کښل سویدي : ( الشاهد بمافیه عالیحضرت فضایل و کمالات پناه ملا بابر مدرس ) ددې قبالې تر وخته چي د ۱۱۹۳ ق کال درجب میاشت وه، ملابابړ په کندهار کي مشهور

مدرس او د فضيلت خښتن عالم وُ، خو دده دمرګ تاريخ او مدفن تراوسه ماته نه دی معلوم. داسي ښکاري چي دملا بابړ په ژوندانه کي دده زوي ملا فيض الله داحمدشلاهي سلطنت دپاي تخت لوي ملا او دشاه ولي خان صدراعظم دکورنۍ استاد وُ.اودباميزو دکوځې دزړې جامع سره چي په (بادام خانه )کي د صدراعظم کور وُ هلته دشاه ولي خان دکور دځنګه ده ته دتدريس او هستوګني دپاره کورونه جوړ سوي وه. چي تراوسه لاهم ځيني کورونه پرهغه پخواني حالت پاته دي.

ملا فيض الله دعربي، فارسي، پښتو مولف، شاعر اوتکړه ليکوال وُ، چي په عربي ئې دمنطق يوه ابتدائي رساله دخپل زوي حبيب الله د زده کړي لپاره تاليف کړې او پر تجويد هم يو کتاب لري. د تحقيق التوبه رساله ئې په عربي کښلې ده چي خطي نسخه ئې دکابل په ملي ارشيف کي خوندي ده. او دده دپښتو شعر يوه فصيحه او خوږه نمونه ئرو، چي لومړي پلا ئې يوه غزل د پښتانه شعرا د لومړي ټوک په پاي کي په ۱۳۲۰ ش کال په کابل کي چاپ سويده.

فيض الله له تصوفه سره هم څه اړه درلوده او داسي ښکاري چي د ميافقيرالله جلال آبادي سره ئې مکاتبه کوله، او د غه دتصوف غټ پوهاند خپل يو مفصل عربي مکتوب چي د عرفان پر مکاتبو باندي يو رساله ده دده په غوښتنه ليکلی دئ، چي د ميافقيرالله د مکتوباتو په مجموعه کي نمبر ۵۷ له ۳۲۳ مخه تر ۳۵۴ مخه پوري چاپ سويده.

د فيض الله اخندزاده زوي مولوي حبيب الله چي په ( فاضل کندهاري ) مشهور دئ، په اصول، فقه، حديث ، منطق، هيئت او نجوم ، اخلاق او تصوف کي په عربي او فارسي او پښتو ډير کتابونه تاليف کړيدي. چي يو غټ کتاب ئې رياض المهندسين نوميږي او په دغه کتاب کي دعالي رياضياتو لکه اقليدس، اُکر، مثلثات، نجوم،

مرایا، ارصاد، زیج، تکسیر، دوایر، مناظر، هیئت او جغرافیاء لس علمي خېرني په شپږو روضو کي سره راغونډې کړيدي. او د ده تالیفات تر پنځوسو پوري په نقلي او عقلي پوهنو کي رسیږي وفات ئې په کندهار کښې په ۱۲۶۳ ق کال دی.

د فاضل کندهاري زوي مولوي عبدالرحیم اخوند زاده هم لوی عالم او د کابل په بالاحصار کي د امیر شیرعلیخان د ولیعهد عبدالله جان استاد ؤ، او د ۱۲۹۸ ق د شوال په میاشت چي امیر عبدالرحمن خان کندهار فتح کې، نوئې مولوي عبدالرحیم پخپله توره د خرقي شریفي دګنبدي په مدخل کي وواژه. خو ده زوي مولوي عبدالرؤف ئې کابل ته راوست او دلته دشاهي مدرسي مدرس او د حضور ملا او د قاضیانو ممتحن و. ( تولدقندهار صفر ۱۲۶۷ ق _ وفات کابل ۱۶ شوال ۱۳۳۴ ق ).

د مولوي عبدالرؤ ف تالیفات په درو ژبو عربي، فارسي، پښتو ډیر دی اوپه ۱۳۲۳ ق کال یې دسراج الاخبار افغانستان په نامه یوانجمن په کابل کي تاسیس کي، چي ډیر روښن فکران او پوهان پکښي وه، اوپه دغه نامه ئې یوه نیمه میاشتیزه جریده هم خپره کړه. چي لومړی شماره ئې په ۱۱ جنوري ۱۹۰۶ م دکابل په ماشین خانه کي چاپ سویده.

دغه سراج الاخبار فقط یوه شماره خپره سو. خو د هند پرحاکمو پرنګیانو ښه ونه لګید او بیرته ئې بند کې. خوچي اوه کاله پس د مرحوم محمود طرزي په همت بیا بیرته راژوندی سو. خو مولوي عبدالرؤف پر پوهانو ډیر ګران ؤ، چي محمود طرزي ده د مرګ واقعه د خپل اخبار د پنځم کال په لومړۍ شماره ( ۴ سنبله ۱۲۹۴ ش ) کي د موت العالم موت العالم تر عنوان لاندي ولیکله، او بیا ئې په دوهم شماره ( ۲۰ سنبله ۱۲۹۴ ش مخ ۶) کي د ده د شرح حال او د ده

علمي شخصيت پرستاينه او د رحلت پر افسوسناكه واقعه د ( يک خساره تاسف او علمي ) تر عنوان لاندې دابيت كښلى ؤ :

*از دیده زمانه روانست جوي خون*

*اې دیده زمانه بگو تا چې دیده نې*

## دقانون دلاري شهيد :

د مولوي عبدالروؤف مشر زوي مولوي عبدالواسع د ۱۲۹۰ ق كال پـه شاوخواكي د كندهار ښار په هغو كوروكي زيږيدلى ؤ چي د ده د پـلار او نيكه هستوگنځى ؤ.

علمي تحصيلات ئې له خپل پلار څخه كړي ، او په اسلامي نقلـي او عقلي علوموكي يو تكړه او نقاد استاد او ليكوال ؤ. په عربي او فارسي او پښتو ئې شعر وايه. تاليفونه لري، د قران مجيد حافظ او د احاديثو اوفقه او ادبي او بلاغي علومو اوهم د منطق، هيئت ، رياضي،اصول، فقـه او د عربي صرف او نحو لوي مدرس او نقاد ښوونكى ؤ. په تدريس كي ئې ځانته خاصه لنډه او گټه وره طريقه درلوده. د هر علم لنډ او مهم متـون به ئې په خپلو شاگردانو په لږ وخت كي زده كول.

مولوي عبدالواسع د وروستني افغانستان يعني د شلمي سـدۍ د لومړۍ شليزي په فكـري او ادبـي او علمـي غورځنگونـو كښـي بشـپړه برخه لري.

په دغو وختو كښي دى يو ځوان عالم او فكور خطيـب او مبلـغ ؤ، او كله چي به له كندهاره كابل ته راغي، دلته به د وطن دوستانو جرگو كښتي شامل ؤ. څو چي دلته يوه ډله پوهان او د مملكت په فكر دردمـن ځوانان سره راټول سول او دائې سـره ومنلـه، چـي دوي بـه د هيـواد

سياسي نظام له استبدادي او شخصي پاچهۍ څخه د ملـي حاکميـت او مشروطيت پر خوا را اړوي.

د مولوي عبدالواسع سياسي عقيده د قرآن او سنت پر بناء دا وه چي په اسلام کښي مطلقه او بې واکي غيـر مشـروطه حکمرانـي نسـته او نـه اسلامي خلافت ارثي دئ. بلکي اولوالامر د لياقت او پـوهي او فقاهـت پر اساس ټاکل کيږي. نو ځکه بايد د افغانستان امارت مشروط او مقيد او تړ اسلامي قانون لاندي وي.

پر دغه فکر د هغه وخت روشن فکـران لکـه مولـوي محمـد سـرور واصف کندهاري د کندهار کاکـا سـيداحمد لـودين، سـعدالله خـان د واصف ورور، محمدايوب خان پـوپلزی، جـوهر شـاه غوربنـدی، تـاج محمد خان بلوڅ ، محمد عثمان پرواني، لعل محمد خان کابلی، ميـر قاسم خان لغمانی، او نور وطن خواهان هم سره راټول سوي وو. چـي دغه حرکت ته مورږ لومړی مشروطيت يا ځوان افغـان وايـو، چـي دوي پخپله ځانونه ( جان نثاران ملت ) بلل او هـم لـه دغـو حروفـو څخـه د ابجد په حساب د دوي د قربانۍ کال ۱۳۲۶ ق تاريخ راوزي.

جان نثاران ملت خو داسي نوم دئ، چي د دوي د حالـه سـره سـم دئ. ځکه چي دوي ځيني د دغي لاري قرباني يا په سياه سنګ کښي په توپ والوزول سوه، اوپاته ئې د امير تورو کوټو ته ور ارتاو سـول. چـي نورو ملګرو به ئې ويل :

*بنا کردن خوش رسم بخاک وخون غلطيدن*

*خدا رحمت کند آن عاشقان پاک طينت را*

د جان نثاران ملت په فدا کاره ډله کښي مولـوي عبدالواسـع او دده کشر ورور مولوي عبدالرب هم د جيل تورو ګورنډو ته وسپارل سو، او هغه زحمتونه ئې وليدل چي چا به ويل :

**بشب نشيني زندانيان بدم حسرت**
**که نقل مجلس شان دانه هاي زنجير است**

مولوي عبدالواسع تر دې ازماینښت وروسته هم په خپلو فصیحو او بلیغو خطبو کښي خلکو ته اسلامي حقایق څرګندول او تل یې دا دعا وه چي : اللهم اصلح الرعاه والرعیه ...

مولوي د اسلام سیاست او امارت په شرح کي دوه کتابه کښلي دي، چي یو حکمت اسلامي او بل حکومت اسلامي نومیږي. د لومړی کتاب یوه خطي نسخه خوشبختانه دکابل د ملي ارشیف په نمبر ۲۸، ۷ خوندي ده دا مفید کتاب د ۱۳۳۴ ق دربیع الثاني په میاشت کي تالیف سوئ دئ او دی وایي چي : ( یک رساله علیحده مسمي به حکومت اسلامي هم تحریر شده است ... ) مګر د دې دوهمي رسالې کومه نسخه مانه ده لیدلې.

په حکومت اسلامي کي د مولف دا ټینګه عقیده ده چي د انسان او حیوان فرق یوازي په علم او دانش دئ، او د انسان دکور ودانی او د مځکي د کُرې اصلاح او خیرازي هم په پوهي پوري اړه لري، نو د پیغمبرانو بحث او د اسماني کتابو نزول هم د علم او حکمت د ښوونی لپاره دي.

**د قراني حکمت اصول دادي :**

۱. په انساني اجتماع کښي د امر او مامور، حاکم او محکوم ټاکنه، چي د هر علم اوفن غټ او بشپړ پوهاند به د هغه شق په سر کښي ګمارل کیږي او نور به دده په خوله کوي،او دی به ئې د خپل بشپړ علم په رڼا کښي لارښوونه کوي دا مطلب د حکومت اسلامي په رساله کښي شرح سویدئ.

۲. په اسلامي مملکت کي به دښووني او روزني او دنورو صنعتونو د زده کړي لاري چاري له قرآني لارښوونو سره سمي وي.

۳. قرآني علوم دي د غيرضروري زده کړو څخه رابيل سي چـي د مسلمانانو اوقات په ناضرورو چارو کښي ضايع نه سي.

۴. د ټولو ښوونو او کمـالاتو او صـنعتي او فنـي معـارفو نومونـه او اصطلاحات دي په قرآني تعبيرونو او الفاضو معنون کړه سي، چـي پر زده کوونکو باندي ئې تل قرآني روحانيت غالب وي.

۵. اسلامي ملت به تل د اتحاد او ترقی پر خوا د امر معروف او نهي منکـر پـه روڼـا کښـي روان وي او دا بـه د خپلـو ټولـو روحـاني او جسماني ناروغيو درمل گني.

د مولوي د علمي او اسلامي څېړونو بله فکـري پلوشـه دا وه ، چـي هيڅ ملت بي قانونه ژوند نه سي کـولاي او پخپلـه د اسـلامي مملکـت لپاره يو بشپړ مترقي قانون دئ چي په دې روڼا کښي انسان هم خپله دنيا نيولاي سي او هم د آخرت گټه کولاي سي.

د ده دا نظر هغه وخت د تطبيق لاره ومونده چي اعليحضرت امـان الله افغانستان مستقل کئ، او مولوي يي لـه قنـدهاره پـه ۱۲۹۹ شمسـي کال راوغوښت او پـه وزارت عدليـه کښـي ئـې د قوانينـو پـه جوړولـو وگماره.

دلته د عثماني ترکي دولت څخه دوه تنه پوهان جمال پاشا (مقتـول ۱۳۰۱ ش) او بدري بيگ مړ په کابل کي (۱۳۰۲ ش ) هم کابل ته راغلی ؤ، چي د قانون په تدوين کښي ئې تجربه او مهارت درلود. او د مولـوي وظيفه د دوي په ملگري کي دا وه چي مدني او نوي قوانين د اسـلامي شريعت حنفي مذهبه سره تطبيق کاندي. موږ گـورو چـي تـر ۱۲۹۹ ش وروسته په اماني دوره کښي چي کومي نظامنـامې نشـر سـويدي، د

ځينو په پای کي د خادم العلماء محمد عبدالواسع قندهاري امضاء ده.
په دغه سلسله کښي دده يو لوی علمي کار چي د الازهر علماء وه هم په درنه سترگه کتلي وه، د تمسك القضات امانيه د دوو ټوکو تاليف دئ چي لومړی ټوك ئې حقوق او دوهم ټوك د جزا بيان دئ. دغه دوهم ټوك يو مقدمه او دوه کتابه لري، چي لومړی کتاب د حدودو بيان په څلورو بابو کښي لري. اما دوهم کتاب د جناياتو بيان دئ. په څلور بابه کښي. چي گرده کتاب په ۱۸۴ مخو او ۱۱۱۳ مادو کښي چاپ سوئ او مقدمه ئې د اعليحضرت امان الله خان په مهر مزينه ده او په پای کښي ئې داسي کښلي دي : ( الموألف خادم العلماء محمد عبدالواسع قندهاری عفي عنه سنه ۱۳۴۰ ق ).

دا کتاب گرده دوه زره جلده د کابل په سنگي مطبه کښي په ۱۳۰۰ شمسي چاپ سو او دا معلومه نه ده چي د کتاب لومړی برخه (حقوق) چاپ سو که يه ؟ خو دوني معلومه ده چي مرحوم موألف په خط ئې اصله مسوده دده په کورنۍ کي سته.

موألف هم شرعي حکم بي له حوالي نه کاږي، بلکي د حنفي مذهب مقدس لومړئ ماده داسي ده :

حد درلغت به معنا منع است ودر شريعت عقوبت مقدره که حق خداي تعالي باشد انرا حد گويند. لهذا قصاص حد نيست. زيرا که حق عبداست نيز تعزير را حد نميگويند. زيرا عقوبت مقدره نيست ( هدايه ص ۵). د افغانستان ملت روزونکی او خير غوښتونکي پاچا غازي امان الله عليه الرحمه د کتاب په سريزه کښي داسي ليکلي :

( اما بعد : راعي عبدالله وحامي بلاده الغازي امير امان الله. بادشاه دولت مستقله اسلاميه خدا داد افغانستان ... واضح ميدارد که ترقيات دين و دنياي دول وملل اسلامي ... مشروط اجراي احکام محکمه

قرآني ومربوط امضاي قواعدحقه انساني است. بنا برين ... خواستم که درممالك محروسه دولت خدا داد مستقله افغانستان حكم غير خدا نافذ وامري بجز شريعت حاكم نباشد. وچون كتب فقيه اين زمان داراي اقوال و روايات بزبان عربي بوده استخراج حكم معلول الصحه هر حادثه از آنها صعوبتي داردكه از عموم حكام و كارداران دولت بلكه از خصوص ساير قضاء ومفتيان اميد كرده نميشود. امر فرمودم تاعلماي حضور روايات صحيه مذهب مهذب حنفي را مطابق معمول فرصت حال يكجا كرده بزبان فارسي مدون نمايند. حسب الحكم كتاب تمسك القضاء الامانيه را تدوين ساخته كل مسائل و روايات ان بنظر دقت شاهانه ام رسيده حكم فرمودم كه قضات محاكم حقوق وجزا وحكام ادارات عدليه ... د رفيصله دعاوي ومرافعات احكام مندرجه كتاب موصوف را معمول داشته او روايات ديگر كتب و مجموعات صرف نظر نمايند ... ( ص ۳ )

( په دې دي کړن وسي : الغازي امير امان الله ۱۳۰۱ )

مولوي په دغه دوره کښې د مكتب حكام نګران وٌ، او د مكتب دارالقضات الامانيه مشرهم وٌ. او د دغو مكتبو په تعليمي تاليفاتو کښې ئې دغه رسالې کښلي او چاپ کړيدي :

۱. تفسير وايضاح نود ونه قاعده فقهيه ۱۸۹ ماده ۶۴ مخه د كابل سنګي چاپ ۱۳۰۰ ش

۲. كليات واصطلاحات فقهيه براي نصاب قضات محاكم مرافعه ۳۶ مخه د كابل سنګي چاپ اول جدي ۱۳۰۰ ش.

۳. رساله شناخت خدا ۳۰ مخه دالله تعالي د اسماء الحسني معاني او فوائد د كابل چاپ ۱۳۰۰ ش.

۴. عنوان اساسي دينيات در مضمون تعليمي فلسفه اسلامي قرآني ۸۴ مخه د کابل چاپ ۱۳۰۰ ش.

مولوي عبدالواسع تر دغو تقنيني او تعليمي وظايفو وروسته د ځينو مغرضو مامورينو د خرابکارۍ په سبب له عدلي او تعليمي کارو څخه بيل سو، او کله چي د ارگ په برج شمالي کښي پښتو مرکه جوړه سوه (عقرب ۱۳۰۱ ش اکتوبر ۱۹۲۲ م) نو دی ئې په رياست مقرر سو چي د مرکې د تاسيس لومړی اعلان دده په امضاء خپور سو، په دغه رياست کښي دده سره عبدالرحمن لودين (دوهم رئيس) لالا محمد زمان خان طرزی، عبدالوهاب کاموي (د انگريزي ترجمان) او ځني کشران لکه عبدالله افغاني نويس او ملا پاچا مير خوگيانی او عبدالخالق واسعي هم کاړ کوونکی غړي وه.

په دې رياست کښي دده تر نظر لاندي يوازيني پښتو او د پښتو پښويه کتابونه چاپ سول او يو د پښتو قاموس هم عبدالرحمن لودين وکيښ چي هغه وخت چاپ نه سو. د راورټي پښتو گرامر او مقدمه ئې په پښتو ترجمه سوه.

د ۱۳۰۲ ش کال په ژمي د دولت په تشکيلاتو کښي يو د محاکماتو رياست نوی جوړ سو. چي په رياست ئې مولوي عبدالواسع وټاکل سو، او پر ځاي ئې عبدالرحمن لودين د پښتو مرکې رئيس مقرر سو. مولوي به کله کله د جمعې په ورځ د کابل د پل خشتي ماجت کښي خلکو ته تبليغ کاوه د ۱۳۰۳ ش کال په يوه خطبه کې دده دا خبره وځېړله چي اولو الامري په لياقت او لوړ شخصيت پوري اړه لري. د هري پيشي او مسلک او هرفن او صنعت ماهر او پوه سړی بايد د نورو مشر وي. چي له ده څخه هغه هنر او پيشه ياصنعت او حرفت زده کړي، په سياست او جهانداری کښي هم هغه څوک د مشرۍ او تقليد وړ دی، چي په دغو

اصولو ښه پوهيږي او پوره عالم او مـاهر وي. او اذا توسـدالامرالي غيـر اهله فانتظر الساعه ... که کار نا اهل او ناپوه ته وسپارل سي پـر مـخ نـه ځي بلکي وراني ځيني پيښيږي ... ځينو نااهلو او مغرضو درباريانو دا خبره په بد ډول پاچا تـه ورسـوله، او مولـوي ئـې واخيسـت دکابـل د کوتوالي په توقيف خانه کښي ئې بندي کئ چي پسله دوه کاله ايله سـو او قندهار ته ولاړ او هلته ئې هم په تدريس او تبليغ عمر تيـراوه. کلـه چي د انگريزانو په لمسون په ۱۳۰۷ ش کال پـه وطـن کښـي د ارتجـاع حرکت د اماني غورځنګ په مقابل کښي شروع سو. مولوي د امـان الله په حمايت که فتوا صادره کړه او د قندهار ګڼ علماء ئـې پـه دې قـانع کړل چي دغه فتوا امضاء کړي . ځکه چي شرعاً د بچه سـقاو رژيـم يـو متغلب او مرتجع او نا اهل باغي رژيم وُ. د انګريزانو دسيسو پر امـاني افغانسـتان بانـدي د تـوري کـار وکـي، او د امـان الله غونـدي ترقـي غوښتونکي او غازي پاچا د بچه سقاو، مرتجع او نابينا حکومت راوستل سو، اوکله چي د ۱۳۰۸ ش په جـوزا کـي دغـي نـاپوهي ډلـي قنـدهار ونيو، نوئې مولوي عبدالواسع په دې جـرم چـي د مملکـت دپـاره ئـې نظامنامې جوړي کړي او قـوانين ئـې را ايستلي وو، پـه قنـدهار کـي ونيوئ او کابل ته ئې راووست. بچه سقاو ورته وويل : چـي تاسـي پرمـا دکفر امر کړيدئ نوځکه تا وژنم. مولوي په لوړ ږغ جواب ورکئ چـي استغفرالله ! زه پر اهل قبله د کفر حکم نـه کـوم، مګـر تـه خـو قـاطع الطريق ئې بايد لاس او پښه دي شرعاً پرې سـي. هغـه وُ چـي د بچـهٔ سقاو په امر دکابل په سياه سنګ کي د والي علي احمد خـان سـره يـو ځاى په توپ کښي والوزول سو. نو دى په دې مملکت کښي د نظـام او قانون جوړولو او يوه مترقي ګټه ور حرکت د لاري شهيد ګڼل کيږي.

(( عليه الرحمه والرضوان ))

## د پښتو يو مفکر شاعر :

لکه چي مولوي خپل اجتماعي، سياسي او ملي افکار پخپلو فارسي تاليفونو کي ځای کړي او د وطن روښن فکرانو لارښوونه ئې کړېده. کله به ئې دغه خپله اجتماعي عقيده او فکر په پښتو منظومو کي ښکاره کاوه. لکه چي د مملکت په پخوانو نشراتو کي چي دده ځيني شعرونه چاپ سوي هم دي.

مگر دا بايد وويل سي، چي د مولوي منظومات د شعر ويلو په نيت نه وو، بلکي ده پښتو نظمونه د خپلو نظرياتو او اجتماعي او سياسي او اصلاحي عقايدو د ځرگندوني لپاره استعمالول نوځکه د ده پر منظومو باندي اجتماعي او اصلاحي رنگ غالب دئ، او تبليغي ځنگ ئې تر شاعرانه رنگ تکړه ښکاري او دا هغه د فکر مکتب دئ، چي د ده يو بل معاصر عالم او اديب عبدالباقي افغان هم پخپل منظوم مثنوي تبيين الواجبات کي پاللي دئ.

دا لاندي اوږده اجتماعي منظومه، چي د ده فکر سير او اجتماعي عقايد ښئي تر اوسه نه ده نشر سوې، په ۱۳۰۵ ش کال چي ده دغه منظومه جوړه کړه ما پرده د عروضو يو کتاب د شاگرد په توگه لوست. ده خپله مسوده ماته راکړه چي پاک نويسه ئې کړم.

دا مسوده د ده پخپل خط ۵۵ کاله زما سره پاته سوه، او اوس ئې نشر ته سپارم.

(( خدا رحمت کند ان عاشقان پاک طينت را ))

# وتعاونوا علی البر والتقوی

د هوښیار سړي فطري دا وظیفه ده
چي خبره د حکمت دده غوښته ده
شپه وورځ ئې د حکمت طلب مطلب
که بیګاه ددې مطلب دی په طلب
هر چیري چي (۱) د حکمت خبره مونده
هم هغه ځای له پرسر ځي نه پر پونده
فرق پر نسته چي د چا یا چا د خولې ده
چي حکمت ؤ دده دین دنیا هورې ده
ددښمن دخولې کې (۲) مقصد اداء سي
دښمني سي ځني هېره په خندا سي
او کې (۳) دوست کړي بې حکمته حرکت
دوستي کي ئې نه غواړي برکت
دا خاصه د سړیتوب ده په اجماع
د خلاف په دې کي نسته هیڅ سماع
د دلیل اود برهان احتیاج ئې نسته
وجداني ذوقي قبلیږي نه په لوسته
او که ستا وجدان ئې نه قبلوي وروره!
پرده واخله له وجدانه بیا ئې ګوره

دا وجــدان وجــدان چــي مــوږ پــه ژبــه بولــو
پــــه مجمـــع کـــي د ځوانـــانو د امزولـــو
دا وجــدان نــه دی خـــواهش د طبیعـــت دی
تحریفونـــه د الفـــاظو لـــوي آفـــت دی
کـــه وجـــدان د ســـرپتوب وای دا خـــواهش
اتفـــاق بـــه وو، پـــر حســـن نکـــوهش
زمـا ممـدوح بـه ستـا مبغـوض هیڅکلـه نـه وو
بـد دټـول انسـان بـه بـد، او ښـه بـه ښـه وو
دا خـــلاف بـــي وجـــدانۍ دی پیـــدا کـــړي
طبیعـــت د خپـــل خـــواهش نـــوم ادا کـــړي
کــه سـړی یـم اول کــار مــي د وجــدان ســو
چــي وجـدان پیـدا ســو ټولـه کـار اسـان ســو
کـه وجـدان واي جنگ بـه چیـري وُ پـر مځکـه
کـه وجـدان واي خـوښ بـه نـه وم ستـا پـه ورکـه
کــه وجــدان واي ټــول حقــوق بــه مــو اداء وای
پــر دنیـــا بـــه نـــه بـــډای او نـــه گـــدا وای
کـــه وجـــدان واي زه او تـــه یـــو یـــو انســـان
ولـي زمـا کمـیس کریـاس دی ستـا دا ســان؟
کـه وجـدان واي عـالم ټولـه بـه یکسـان واي
جلـوه گـر بـه پـر دنیـا خـوي دانسـان واي
عمـــومي وفـــاق ، وحـــدت، خلـــت، رحمـــت
پـــر عـــالم بـــه جلـــوه گـــروو نـــه زحمـــت
کــه وجــدان واي اســلام کفــر بــه لــه څــه وو
مـــا وتابـــه ټـــول هغـــه کـــول چـــي ښـــه وو

که وجدان واي نه مريي وئ نه آغا
نه زه تاته وم په عرض او په غوغا
عالم ټول بې وجدانی دی رسوا کړي
هر سړی وجدان په طبع سودا کړی
طبايع چې مختلف دي پيدا سوي
هم هغه دي د عالم مقتداء سوي
مخامخ په دم کې اخـتلاف سو
پر عالم چاپېر نزاع سو او خلاف سو
په علاج ددې طبعي خلاف کې ياره !
قوانين د عدالت راغله سياره
چې دافع د طبيعي خلاف سې گوره !
وجداني وحدت پيدا کې لور د لوره
اوس معلوم سو، دوجدانه قانون دان دی
بې قانون چې هر سړې دی بې وجدان دی
زه به خپل ظاهر باطن پر قانون عرض کړم
کې قبول کړه، د وجدانه به ځان فرض کړم

**او که ټول قانون غربي او زه دشرق وم**
**د وجدان نوم مي حرام، که اهل فرق وم**

چیـري تلمـه، چیرتـه راغلـم څـه راکیـږي؟
تــر خبــري پــوري بــل خبــر یادیــږي
مطلــب دا وُ چــي ســړی حکمــت طلــب دی
سړی نه دی، څوک چي نه په دې مطلب دی
حکمتونــه د مخلــوق هــر گــوره ډیــر دي
تـر حسـاب او ترکتـاب او تـر شـمار تیـر دي
هــر ســړی مکلــف نــه دی پــه دي وارو
نو بـه اوس پـه ډیـر طلـب یـو حکمت غـوارو
چــي منبــع د ســعادت د هرانســـان وي
نتیجـه ئـې پـه معـاش معـاد یکسـان وي
قاصـر فکـر مـي پـه هـره خـوا جـولان کـی
چـي پیـدا د حکمـت د نـوع د انسـان کـی
پـه عـالم کـي بـل شـی نـه را معلومیـږي
بېلـه دي چـي "تعـاون" ئـې نـوم یادیـږي
کـه تـه هـم د عقلـي فکـر اعمـال وکـې (۴)
تخطئـه زمـا د قاصـر فکـر بـه نـه کـی
شـا وخـوا چـي سـعادات د انسـان گـورې
بـې بهـا د تعـاون بـه ئـې نـه پلـورې
تعـاون دی چـي اسـاس ئـې د معـاش
پـر عـالم کـي پـه حرفـت او صـنعت فـاش
تعـاون دی چـي سـړی هـوا پیمـا سـو
تعـاون دی چـي صـانع سـرپه هـوا سـو
تعـاون دی چـي اسـرار تولـه پیـدا سـو
تعـاون دی چـي ژړانـد گـل پـه خنـدا سـو

تعـاون دی چـي مطلـوب ئـې تـول غالـب کـړه
تعـاون دی چـي مطلـوب ئـې تـول طالـب کـړه
الحاصـــل بـــې تعاونـــه د هـــم جنســـو
هيڅـوک هيـڅ کـولای نـه سی ، لـه مـوږ أنسـو
دا خبـره هـم تحقيـق ده ببلـه شـکه
هـر انسـان بـه عقيـده لـري پـر کلکـه

اوس نـو ځـان تـه وايـم، تـې هـم پـه غـوږ واوره
(کـه دپـلار بـه مـي وه ژرنـده هـم پـه وار وه)
وهرچاتـــه بـــه مـــي وار ورکـــاوه پـــلار
زمـــا ، نـــه ولـــي ســـو خطـــا د تهولـــو وار؟
ژرنـــده څرخـــوم د يـــو ځـــان پـــر مشـــتک
ځکـه کـئ تـوکر تـوکر مـي خپـل خنبتـک
نـه لـه کـوره نـه لـه کلـي پيتـي غـوارم
کـه څـوک رېغ راوکـي کـوڼ سـم سـر ونغـارم
د خپـل خيـال اتـه اوره مـي دي پـه جـوال کـي
بـاد پـه لاس، خـاوري پـر سـريم پـه هـر کـال
بـــالا اب د ژرنـــدي ډک لـــه ابـــو چـــوي
څـرخ تيـار، تبـر هـم پـر سـپور گلـو هـم نـوی
تـــه ســـنگي وبـــالا ســـنگ دواړه المـــاس
اولـــس تهولـــه زمـــا د ژرنـــدي پـــه وســـواس

ورتــه پــروت بــه د كلــو كلــو ايــر وي (۵)
بلــي ژرنــدي لــه كــي وړي بــد ئــې اثــر وي
زمــا نخــوت لـــه تعاونـــه پـــه نفــرت دی
پـــه كريابــه ژرنـــده خــوښ د آس فطــرت دی
اولــس تولــه مــي محــروم كــړه لــه دې ژرنــدي
پـــه نينــو شـــپه تېــروي ورونـــه او خوينــدي
پـــه يــوه ســر مـــي اتـــڼ دی بــر پـــا كــړي
يـــک جانـــه مـــي يـــواوړد صـــف دی درولـــي
پــه نخــوت او پــه غـرور د ځــان خوشــحال يــم
چــي و ژرنــدي تــه وګــورم پــه بــل حــال يــم
ځنګــه ښــه والــه، څــه ډول، څــه ښــه كهـی ده!
څــه تاســنګ څــه بــالا ســنګ څــه ټكټكــی ده
څـــه ډب ډب ئـــې دخـــالي ډبـــرو خيـــژي
پــر پارچــاو بانــدي اوبــه څــه ښــه شــوريږي
فكــر نســته چــي حاصــل د ژرنــدي څــه دی؟
ډبهــار او شــور شــوری ئــې پــه څــه ښــه دی؟
پــه مــزد ځــاي كښــي څــو اوړه دي يــا غــنم
د جـــوال مـــزد مـــي اتـــم دی كـــه لســـم؟
څــــې كــــوم دا ډبهـــاری او ټكټــــک
چــي پـــه تولــه ژرنـــده نـــه پـــايي مـــوړک

هــره ورځ مــي تــر پــرون ډودی لږيــږي
د پــرون غــړی مــي نــن څپتــی كيــږي

کــه چــا رېغ وکــی چــي دا ژرنــده کريابــه !
زه ســوتی پــر ځرخــوم کــړم ئــې بــې آبــه
ځانځــاني موجــوده کــړي هــر ســړي ده
زه د ځــان يــم ، تــه د ځــان دا مــو مــردي ده
سرچشـــــمه د ســــعادت تعـــاون پاتــــه
زه وتاتــــه وايــــم چــــپ، او تــــه وماتــــه
پــه سکوت سکوت کي ديــن دنيــا خطــا سوه
نــه حرفــت نــه مــو صنعت نــه مــو عطــاء سوه
وپلانــي اخنــد تــه مــه وايــه چــي بــد کـړي
پلانــي خــان تــه بــه پــه څــو وايــي چــي رد کـړي
نـــوی ځـــوان کلـــه طاقـــت لـــري د پنـــد
زوړ بـــوډا خـــوارکی څـــه کـــوي بـــې خونـــد
لويـــه ربـــره لـــه هلکـــه ســـره لويـــږي
پـرې ئـې رده خپلـي بـازي، تـه، نـه شـرميږي
پــه جنکيــو دي څــه کــار دي اې بــې کــاره !
پـــه ځوانـــانوبنځو مـــه ســـې خبـــرداره
ادې گــاني دي حقــداري پــر مــوږ تولــو
که دوي بـد کـوي مـوږ تولـه بـې (۶) بنـه بولـو
زوره ور تــه لا هــم څــوک رښتيــا وينــا کــي
ليـــوني وي مگـــر ځـــان پـــه مبـــتلا کـــي
صـــم بکـــم فهـــم يـــا يهتـــدون (۷)
وږي، تـــږي، خـــواروزار، مطلـــوب، زبـــون
حســـن و قـــبح لـــه مـــا ورک ســوه لېـوني يــم
زيـــان وگټـــه راتـــه يـــوه ســـوه بهـــولی يـــم

تعـــاون لـــه قبـــيلي لـــه قومـــه ورک ســـو
لـــويي ړيـــري، مگـــر کـــار مـــو د هلـــک ســـو
زه پخپلـــه د غفلـــت پـــه خـــوب ويـــده يـــم
د نخـــوت شـــراب مـــي څنبلـــي ســـرگنده يـــم

بل څوک نسته چي ارام ارام مي ويښ کي (٨)
پـر تنـدي مـي را پټـی د عـلاج سـريښ کـړي
زمـــا خـــوب بـــولي سراســـر گټـــه د ځـــان
اقربـــــاء او اعـــــزه او ټـــــول خپلـــــوان

وجدان نسته چي معلوم کړي چي زه څوک يم
د کـــم ســـاز د تـــرانې دپـــاره کـــوک يـــم
زمـا تعطيـل، غفلت، نخـوت کـه څـو يـوان دي
د عـــالم عـــالم مـــادي معنـــوي زيـــان دي

ســتا دي زهــر ســي خــواره اې زمــا قريبــه !
چـي پـه ځـان دي يـو عـالم کـی بـې نصيبه
لـوی دښمـن زمـا وځـان تـه يـې اې يـاره !
پـه چـم چـم دي کـړم هـلاک زمـا دلـداره

زه ويـــده يـــم تـــر پـــر مـــا للـــو وي وايـــي
زه هـــلاک ! بنـــدي ســـوم تـــه مـــي ســـتايي
کـــه زه ويـــښ ســـوم پـــه والله مـــي دي قســـم
چـــي پـــه اور کـــي بـــه دي پښـــو کـــي ومـــرورم

مـــا بـــه څـــوک ويـــښ کـــي يـــارانو الغيـــا ث
فرصـــت ډيـــر تيـــر ســـو ځوانـــانو الغيـــا ث
څـــه ســـوه اهـــل د حکمـــت د تعـــاون ؟
چـــي خپـــل ځـــان ئـــې وُهيـــر کـــړی لا پـــرون

زمـا پـه ويښـه کـي فـدا کـئ دا خپـل ځـان
زمـا پـه گټـه کـې قبـول کـئ (۹) هرڅـه زيـان
کـار خانــه د تعــاون راتــه بـر پـا کـئ (۱۰)
په برقي قوه مـا ويـل کـئ بيـا مـي مـا کـئ (۱۱)
يــو هنـــداره ماتـــه راکـــئ راســت نمايشـــه
چــي ښکــاره کــي ماتــه ځــان بــې الايشــه
د نخــــوت او دغـــــرور لــــه رنگـــــه پـــاک
راتـــه وښيـــي زمـــا ځـــان او زمـــا ادراک
کــه مــي وليــد مــخ پــه داسـي يــو هنـداره
تجلــــې بـــــه مـــــي ورگـــوري وار دواره
زه طلـــب ددې هنـــداري کـــړم لـــه تاســـي
د بـــلا لـــه کـــوره مـــا کـــه څـــوک وباســـي
زه بـــه لمـــر ســـم تـــول جهـــان بـــه کـــړم رونـــا
تاريکـــه بـــه پاتـــه نـــه ســـي پـــر دنيـــا
دا هنـــداره د هـــر چـــا پـــه کـــور کـــي ستـــه ده
مگـــر دا چـــي پـــه زنگـــارو اغشـــتـه ده
زنگـــار څـــه دي ؟ ځانځـــاني خپـــل مطلبـــي
زه اخونـــد ، تـــه ســـوې آغـــا ، دا ســـوه بـــي بـــي
پـــــه قــــانون د تعــــاون انســـــاني
نـــه اخونـــد ستـــه، نـــه آغـــا نـــه ځانځـــاني
کـــه تـــا ښـــه کـــول زه ســـتا فرمـــانبردار يـــم
پخپـــل ســـر ومـــال ولاړ او فـــدا کـــار يـــم
کـــه مـــا بـــد کـــول تـــه هـــيڅ نـــه يـــې معـــذور
څـــو چـــي زمـــا بـــدي لـــه مـــا نـــه نکـــړې دور

ځان ومال، اولاد به ټول زما په تهذيب کي
صدقه کړي زما به هر څه په نصيب کې (۱۲)
که دا باب د تعاون پر عالم خلاص سي
بديهي ده چي سړي به ټول خواص سي
تعاون په عقلاؤ کي اساس دی
بيا همت په تعاون کي زموږ په لاس دی
هر قدر چي ترقي ده په دنيا کي
تعاون هغه قدر دی په اداء کي

دا ښکاره چي تعاون انساني
هم په دين او دنيا نه لري ثاني

نو پښتونه ! دا بخت ته اول وغواړه !
زما خوار و دې وينا ته کيږده غاړه
زموږ په کور کي يو هنداره ده زړه
هيڅ زنګار ورته لار نه لري رنه
هر شی ښه پکښي معلوم دی په تحقيق
د سبا حال ئې پرون کړي تصديق
له پلرو راپاته سوېده له فخره
اوس په دورو کي پرته زما په بخره
زما يوازي هيڅ قوه نه په رسيږي
د مړو مړانه غواړي چي جګيږي
راسه ! کښې ئي ږدو پر سر د لوړ چارسو
ټول عالم پکښي وګورو له چار ، سو

پــټ و لـــغ بــه راښکـــاره ســـي لـــه دورا
نـــر وښځـــه بـــه معلـــوم ســـي اشـــکارا
گټــه زيـــان بــه افتـــابي ســـي وجهـــان تـــه
هـــم غالـــب مغلـــوب بـــه ووزي وعيـــان تـــه
وظيفـــه د تعـــاون بـــه مـــو پـــر ځـــای ســـي
د انســـان افـــراد بـــه ټولـــه خوشـــنما ســـي
صـــلح کُـــل، او ترقـــي چـــي څـــه ممکـــن وي
د عـــالم دپـــاره هـــر څـــه چـــي محســـن وي
دا هنـداري (۱۳) پـه رښتيـا ومـوږ تـه نمـايي
هـر چـي وايـي، دروغ نسـته ، رښتيـا وايـي

دا جهـــان گـــرده صـــدقه تـــر دي هنـــداره
چـــي ښکـــاره بـــه کـــړي ومـــوږ تـــه ســـمه لاره

***کندهار ـ ۱۷ جدي ـ ۱۳۰۵ ش***

## لمن ليکونه

۱. چي ئې.
۲. که ئې.
۳. که ئې.
٤. وکی = وکړي.
۵. اير : هغه غنم چي ژرندي ته د اوړو کولو لپاره راوړل سوي وي.
٦. بې = به ئې.
۷. يعني کانه، ګنګي، ړانده دوي لار نه مومي.
۸. کي = کړي.
۹. کي = کړي.
۱۰. کي = کړي.
۱۱. کي = کړي.
۱۲. کي = کړي.
۱۳. هنداري = هنداره ئې.
۱٤. د افغان ياد، د ۱۳٦۰ لمريز کال چاپ کابل. مخ ۲ ــ ۱٤.